## د ماشومانو د خبرو کولو او ژبې د درملنې خدمت

د والدینو او پالونکو لپاره لارښوونې.

# یو ماشوم، دوه ژبې، دوه برابره ساعتېرې

ایا دا د ماشومانو لپاره ستونزمنه ده چې په یوه وخت کې دوه ژبې زده کړي؟

- ماشومانو ځینې وخت کولای شي دوه یا درې ژبې په اسانۍ سره زده کړي. په ښه توګه د نوې ژبې زده کول وخت نیسي
- په پیل کې کېدای شي ماشومان ژبې سره ګډې کړي. دا عادي ده
- د خپلې اصلي ژبې کارولو ته دوام ورکړي. په هماغه ژبه کې کتابونه ولولئ او خبرې وکړئ. دا له هغوی سره مرسته کوي چې ټولې ژبې ښې زده کړي
- ځینې وختونه ماشومان په خبرو کولو یا پوهېدو کې ستونزې لري. دا حتی هغه وخت هم پېښېدای شي چې کله هغوی دوه ژبې زده کوي
- که چېرته یو ماشوم په خپله مورنۍ ژبه کې ډېرې ستونزې لري، له یو چا سره خبرې وکړئ لکه ستاسو د ماشوم نرسري یا د خبرو کولو او ژبې د درملنې له ټیم سره خبرې وکړئ.

ولې مهمه ده چې له خپل ماشوم سره ستاسو په خپله ژبه خبرې وکړئ؟

- د ماشوم اصلي ژبه خورا مهمه ده. دا له هغوی سره مرسته کوي تر څو نورې ژبې په اسانۍ سره زده کړي لکه انګلیسي.
- غوره ده چې له خپل ماشوم سره په خپله اصلي ژبه خبرې وکړئ. تاسو پر دې ډېر ښه پوهېږئ او دا ستاسو لپاره طبیعي ده. د خپلې ژبې کارول ستاسو له ماشوم سره مرسته کوي تر څو له کورنۍ او کلتور سره اړیکه پیدا کړي
- له یوې څخه پر ډېرو ژبو پوهېدل د ښوونځي او ژوند لپاره خورا ګټوره ده!

کلیدي ټکي:

- تر ټولو غوره ژبه چې والدین یا پالونکي کولای شي په هغې له خپل ماشوم سره خبرې وکړي هغه یې خپله اصلي ژبه ده
- ډېری ماشومان کولای شي په یوه وخت کې دوه یا درې ژبې زده کړي
- ستاسو د ماشوم لپاره خورا مهمه ده چې خپله اصلي ژبه زده کړي.